An Roinn Dlí agus Cirt,
Gnóthaí Baile agus Imirce
Department of Justice,
Home Affairs and Migration

# د IPAS داخلي مقررات

## د ۲۰۲۶ کال د جون په میاشت کې تازه شوي

**د کور مقررات په پښتو ژبه هم شتون لري. د QR کوډ سکین کړئ یا یې آنلاین وګورئ.**

**قوانین خانه به زبان فارسی نیز در دسترس است. کد QR را اسکن کنید یا به‌صورت آنلاین مشاهده کنید .**

**القانون الداخلي متوفرأيضا باللغة العربية. امسح رمز الاستجابة السريعة أو ادخل إلى الموقع الإلكتروني.**

შინაგანაწესი ასევე ხელმისაწვდომია ქართულ ენაზეც. დაასკანირეთ **QR** კოდი ან ეწვიეთ ვებგვერდს.

**Правила внутрішнього розпорядку також доступні грузинською мовою. Відскануйте QR-код або перейдіть за посиланням онлайн.**

**Las Normas de la Casa también están disponibles en español. Escanee el código QR o consúltelas en línea.**

**یاساکانی ناخو بە زمانی کوردیش بەردەستن. کودی QT سکان بکە یان بچو سەر هێڵ.**

**Le règlement intérieur est également disponible en français. Scannez le code QR ou consultez-le en ligne.**

**Xeerarka Guriga sidoo kale waxay ku qoran yihiin af-Soomaali. Iskaan garee QR code-ka ama booqo bogga internetka si aad u akhrido.**

گھر کے قواعد و ضوابط اردو زبان میں بھی دستیاب ہیں۔ کیو آر کوڈ اسکین کریں یا انہیں آن لائن دیکھیں۔

**Rregullat e Shtëpisë janë gjithashtu të disponueshme në gjuhën shqipe. Skanoni kodin QR ose shikojini online.**

**As Regras da Casa também estão disponíveis em português. Escaneie o código QR ou acesse online.**

**আবাসন বিধিমালা বাংলাতেও উপলব্ধ রয়েছে। কিউআর (QR) কোড স্ক্যান করুন অথবা অনলাইনে প্রবেশ করুন।**

**Nội quy Nhà ở cũng được cung cấp bằng tiếng Việt. Vui lòng quét mã QR hoặc truy cập trực tuyến.**

د نړیوال ملاتړ د استوګنې خدمتونه (IPAS)

# د IPAS داخلي مقررات

## د ۲۰۲۶ کال د جون په میاشت کې تازه شوي

د مطالبو فهرست


1. د IPAS د استوګنې مرکزونو د داخلي مقرراتو پېژندنه ........ 3
2. د IPAS د داخلي مقرراتو سرغړونې ........ 3
3. مقررات ........ 4
3.1. قانون ........ 4
3.2. چلند ........ 6
3.3. روغتیا او خوندیتوب ........ 7
3.4. د استوګنې ځای ټاکنه ........ 11
3.5. ماشومان ........ 15
4. د شکایتونو د څېړنې کړنلاره ........ 17

## 1. د IPAS د استوګنې مرکزونو د داخلي مقرراتو پېژندنه

د نړیوال ملاتړ د استوګنې خدمتونه (IPAS) هغو کسانو ته استوګنځای او اړوند خدمتونه برابروي چې د نړیوال ملاتړ غوښتنه کوي .IPAS د عدلیې، کورنیو چارو او کډوالۍ وزارت یوه برخه ده. د استوګنې مرکزونه د IPAS په استازیتوب د هغو شرکتونو له خوا اداره کېږي چې له IPAS سره قرارداد لري.

دغه سند هغه اصول او مقررات بیانوي چې تاسو باید د IPAS په استوګنځای کې د ژوند پر مهال مراعات کړئ. دا مقررات د ۲۰۲۶ کال د نړیوال ملاتړ د قانون د ۸۳مې مادې پر بنسټ جوړ شوي دي. دغه قانون د ۲۰۲۶ کال د جون په ۱۲ مه نافذ شوی دی او د غوښتونکو لپاره د منلو معیارونه ټاکي تر څو چې د دوی غوښتنه پریکړه شي.

تر هغه وخته چې تاسو د IPAS په استوګنځای کې اوسېږئ، اړ یاست چې د همدې سند او قانون ټول مقررات مراعات کړئ.

په IPAS کې د استوګنې په منلو سره، تاسو د دغو داخلي مقرراتو رعایت ته خپله موافقه څرګندوئ.

## 2. د IPAS د داخلي مقرراتو سرغړونې

که چېرې یو اوسېدونکی د IPAS داخلي مقررات مات کړي او دغه سرغړونه کوچنۍ وي او د تکراري سرغړونو د یوې بنې برخه نه وي، د مرکز مدیر به موضوع به د اوسېدونکي پام ته ورسوي او هڅه به وکړي چې ستونزه په هماغه ځای کې حل کړي. دا کار کېدای شي د شفاهي اخطار یا لیکلي اخطار له لارې ترسره شي.

خو که د داخلي مقرراتو سرغړونه جدي یا تکراري وي، د مرکز اداره مکلفه ده چې د پېښې راپور په مستقیم ډول IPAS ته وسپاري. د راپور د سپارلو لپاره، د مرکز مدیر باید:

- سرغړونه وڅېړي؛ او
- د ښکېلو اوسېدونکو نظرونه واخلي، مګر که دا کار ناامن وي؛
- د پېښې راپور IPAS ته واستوي.

که د ماشومانو (د ۱۸ کلونو څخه د کم عمر اشخاصو) په اړه کومه اندېښنه یا ستونزه موجوده وي، مرکز مکلف دی چې Tusla او IPAS دواړو ته خبر ورکړي. که سرغړونه د آیرلنډ د قانون سرغړونه هم وګڼل شي یا د مرکز د مناسب نظم لپاره جدي ګواښ رامنځته کړي، د مرکز مدیر به مکلف وي چې موضوع An Garda Síochána (د آیرلنډ پولیسو) ته راپور کړي.

د قانون له مخې، اوسېدونکی باید د داخلي مقرراتو پیروي وکړي. که جدي یا تکراري سرغړونه رامنځته شي، د عدلیې، کورنیو چارو او کډوالۍ وزیر کولای شي د منلو شرایط کم یا لغوه کړي (د قانون ۸۶ مې مادې) یا د منلو

شرایط بېرته وټاکي (د قانون ۷۶ مې مادې). دا معنا لري چې که تاسو داخلي مقررات نقض کړئ، کېدای شي د IPAS بل استوګنیز مرکز ته ولېږدول شئ یا ستاسو د منلو شرایط چې پکې استوګنځای، نور اړوند ملاتړ او ورځنۍ مالي مرسته شامله ده، کم یا لغوه شي.

### بل IPAS مرکز ته لېږد

د قانون د ۷۶مې مادې له مخې، که پرېکړه وشي چې تاسو بل مرکز ته ولېږدول شئ، IPAS به تاسو ته یو لیک درولېږي چې پکې به د لېږد نېټه او د نوي IPAS استوګنیز مرکز نوم ذکر شوی وي. IPAS به د دغه لیک یوه کاپي د مرکز مدیر ته هم ولېږي.

### د منلو شرایطو لغوه کول

د قانون د ۸۶مې مادې له مخې، که یو اوسېدونکی په جدي یا تکراري ډول داخلي مقررات نقض کړي، د عدلیې، کورنیو چارو او کډوالۍ وزیر د استوګنیزو مرکزونو د مناسب نظم او خوندي او اغېزمن مدیریت د ساتنې په موخه کولای شي سمدستي او له مخکیني خبرتیا پرته د هغه اوسېدونکي د منلو شرایط لغوه کړي. دا معنا لري چې نور به د IPAS له خوا تاسو ته استوګنه نه درکول کېږي.

که د منلو شرایطو د کمولو یا لغوه کولو پرېکړه وشي او د IPAS له خوا نور استوګنځای ورنه کړل شي، وزیر به د خپلې پرېکړې دلایل په لیکلي بڼه اړوند کس ته وړاندې کړي.

که تاسو د استوګنې خدماتو د کمولو یا لغوه کولو له پرېکړې څخه ناخوښه یاست، کولای شئ له IPAS څخه د پرېکړې د بیاکتنې غوښتنه وکړئ. د قانون د ۸۹مې مادې له مخې، تاسو د دغې پرېکړې پر وړاندې د اعتراض حق لرئ.

IPAS د نړیوالې ساتنې غوښتونکو ته د منلو شرایط برابروي. که ستاسو د دوسیې په اړه وروستۍ پرېکړه صادره شوې وي، IPAS کولای شي ستاسو د منلو شرایط لغوه کړي.

# 3. مقررات

## 3.1. قانون

تاسو باید د آیرلنډ قوانین مراعات کړئ. تاسو باید په هېڅ ډول جنایي فعالیت کې برخه وانخلئ. تر هغه وخته چې تاسو د IPAS په استوګنځای کې اوسېدونکی یاست، په آیرلنډ کې هر ډول جنایي فعالیت به د داخلي مقرراتو جدي سرغړونه ګڼل کیږي. دا هم هغه جنایي فعالیتونه رانغاړي چې د IPAS په استوګنځای کې ترسره شوي وي او هم هغه چې د IPAS له استوګنځای څخه بهر خو د هېواد په دننه کې ترسره شوي وي.

که هر څوک جزايي قانون مات کړي، هغه به An Garda Síochána (د آيرلنډ پوليسو) ته راپور شي. مديران مکلف دي چې ټولې جنايي پېښې An Garda Síochána ته راپور کړي او په دې برخه کې هېڅ ډول اختياري صلاحيت نه لري. همدارنګه، د ماشومانو د ساتنې اړوند په ټولو مواردو کې مديران مکلف دي چې موضوع Tusla، د ماشوم او کورنۍ ادارې ته راپور کړي او په دې برخه کې هم هېڅ اختياري صلاحيت نه لري.

دلته ياد شوي جرمي فعاليتونه په لاندې مواردو پورې محدود نه دي:

- تاوتريخوالی، د کورني تاوتريخوالي په ګډون
- غلا
- تخريب او ورانکاري
- د ناقانونه نشه‌يي توکو کارول، وېشل يا ساتل
- مستي او ګډوډوونکی چلند
- جنسي ځورونه يا جنسي تېری
- توکمپالنه، د همجنس‌پالنې ضد چلند يا هر ډول ګواښ او وېرول
- په قصدي ډول ناسم، بدغرضه او افتراکوونکي څرګندونې کول، يا
- د نورو اوسېدونکو يا د مرکز د کارکوونکو روغتيا او خونديتوب له خطر سره مخ کول يا زيان رسول

دا ډول چلند د آيرلنډ د قوانينو له مخې غيرقانوني دی.

## 3.1.1. د «راپور ورکولو او استوګنې» شرايط

که تاسو د ۲۰۲۶ کال د نړيوالې ساتنې قانون د ۱۰۲ او ۱۰۳ مادو له مخې د «راپور ورکولو او استوګنې» شرايطو تابع ياست، بايد په هغه ځای کې ژوند وکړئ چې د وزير له خوا ټاکل شوی وي. که ټاکل شوی ځای هماغه استوګنځای وي چې دولت ستاسو د ساتنې غوښتنې د ارزونې تر وخته درکړی وي، نو تاسو بايد هلته استوګنه وکړئ، مګر دا چې دغه شرط د کډوالۍ د يوه افسر له خوا بدل يا لغوه شي.

د راپور ورکولو ځانګړي شرايط او د هغو د نه مراعات کولو جرمانې په هغه ليک کې تشريح شوي دي چې د استوګنځای د تخصيص پر مهال تاسو ته درکړل شوی دی.

که تاسو له دغو شرايطو سره همکاري ونه کړئ، نو سرغړونه به مو کړې وي او د ۲۰۲۶ کال د نړيوالې ساتنې قانون د ۸۶مې مادې له مخې به له مجازاتو سره مخ شئ. دا کار کېدای شي ستاسو د مادي منلو شرايطو د کمېدو يا لغوه کېدو لامل شي. که تاسو د راپور ورکولو شرايط مراعات نه کړئ يا د اړوندو صلاحيت لرونکو ادارو لپاره د اړتيا په وخت کې حاضر نه اوسئ، ستاسو د نړيوالې ساتنې غوښتنه کېدای شي د قانون د ۷۱مې مادې د (f) فقرې له مخې په ضمني ډول بېرته اخيستل شوې وګڼل شي.

## 3.2. چلند

### 3.2.1. درناوی

تاسو باید له هر هغه چا سره چې ملاقات ورسره کوئ، په درناوي چلند وکړئ. همدارنګه باید د مرکز شتمنیو او د نورو اوسېدونکو شتمنیو ته درناوی وکړئ. تاسو باید هېڅ داسې عمل ترسره نه کړئ چې د مرکز خوندیتوب یا مناسب نظم له خطر سره مخ کړي. د IPAS په استوګنځایونو کې، د هغو کسانو سربېره چې په مرکز کې کار کوي یا ژوند کوي، تاسو به له ګڼو نورو اشخاصو سره هم مخامخ شئ، لکه د IPAS استازي، د دولت نور وزارتونه او اداري، نادولتي سازمانونه (NGOs)، د ټولنې غړي او د اوسېدونکو مېلمانه. ټول اوسېدونکي باید هر وخت له ټولو اشخاصو سره په درناوي چلند وکړي.

### 3.2.2. تاوتریخجن یا تېری کوونکی چلند

د IPAS په استوګنځایونو کې د تاوتریخوالي یا تېري کوونکي چلند پر وړاندې د نه زغملو (Zero Tolerance) سخت سیاست پلي کېږي. تاسو باید د IPAS په استوګنځایونو کې تاوتریخجن یا تېری کوونکی چلند ونه کړئ. د یوه شخص، د کورنۍ د غړي په ګډون، یا د حیوان پر وړاندې تاوتریخوالی کې څپېړه وهل، سوک وهل، نیول، لغته وهل، خفه کول، نیشګون نیول، چیچل، سوځول، په چاقو وهل یا ډزې کول شامل دي. تاوتریخجن یا تېری کوونکی چلند همدارنګه ګواښ کول، چیغې وهل، په دروازه کې دربدل او د تګ راتګ مخنیوی کول، د فزیکي ځواک یا جسامت په وسیله وېرول، د شیانو غورځول یا پر دېوالونو سوک وهل هم رانغاړي.

تاسو باید په سپکاوي کوونکي، تبعیضي، توکمپالونکي یا د همجنس‌پالنې ضد چلند کې برخه وانخلئ. په دې کې د سپکاوي کوونکو الفاظو کارول او یا د سپکاوي ډکې ټوکې او ځرګندونې کول هم شامل دي.

تاسو باید په ځورونکی یا ځورونې چلند کې برخه وانخلئ. ځورونه یا زورونه هغه دوامدار چلند دی چې موخه یې نورو ته تکلیف رسول وي، او کېدای شي لفظي سپکاوی، ګواښونه، سپکوونکې ځرګندونې، ټوکې، کنایې یا نورو ته طعنې پکې شاملې وي.

### 3.2.3. د وسلو ساتل

تاسو ته اجازه نشته چې هغه توکي وساتئ یا ذخیره کړئ چې عموماً د وسلې په توګه کارول کېږي، لکه چاقو، تقلبي اوروژونکي وسلې، تشریفاتي تورې او ورته نور توکي.

#### 3.2.4. شور او زوږ

په ځانګړي ډول د شپې له ۱۰ بجو څخه د سهار تر ۸ بجو پورې باید زیات شور او زوږ رامنځته نه کړئ. تاسو باید نور اوسېدونکي او ګاونډیان په پام کې ونیسئ او په یاد ولرئ چې ټول اوسېدونکي په مرکز کې د ارامۍ او سکون حق لري.

#### 3.2.5. سګرټ څکول

تاسو باید په مرکز کې په هېڅ ځای کې سګرټ ونه څکوئ او یا برېښنایي سګرټ (ویپ) ونه کاروئ. همدارنګه، تاسو باید د لوګي کشفوونکي وسایل (Smoke Detectors) پټ نه کړئ، ځکه دا کار د اورلګېدنې جدي خطر رامنځته کولای شي.

#### 3.2.6. الکول او ناقانونه نشه‌يي توکي

تاسو باید په مرکز کې الکول یا ناقانونه نشه‌يي توکي ونه کاروئ او نه یې وساتئ. هغو کسانو ته چې د الکولو، له نسخې پرته درملو یا هغو موادو تر اغېز لاندې وي چې پر چلند یې اغېز کوي، په مرکز کې د حضور اجازه نه ورکول کېږي.

### 3.3. روغتیا او خوندیتوب

#### 3.3.1. د مرکز د مدیر لارښوونې

تاسو باید هېڅ داسې عمل ترسره نه کړئ چې د مرکز عمومي روغتیا او خوندیتوب ته زیان ورسوي. په دې کې هغه توکي هم شامل دي، خو محدود نه دي، چې ستاسو په خونه کې ساتل کېږي یا ستاسو په واک کې وي او د مرکز د اورلګېدنې پر خوندیتوب اغېز کولای شي یا د خلکو روغتیا ته خطر پېښوي.

د مرکز د منظم فعالیت، مناسب نظم او د پکې د موجودو اشخاصو د خوندیتوب لپاره، تاسو باید د استوګنې اړوند په ټولو چارو کې د مرکز د مدیریت او کارکوونکو لارښوونې او هدایتونه تعقیب کړئ.

#### 3.3.2. د خونو معاینه

د مرکز اداره باید په منظم ډول د مرکز ټولې خونې پلټنه کړي. تاسو باید له دغو پلټنهونو سره همکاري وکړئ. د پلټنه وخت به تاسو ته خبر درکول کېږي او دا پلټنې به معمولاً په منظم او له مخکې معلوم مهالویش سره سم ترسره کېږي.

کېدای شي د ټاکل شوي مهالویش څخه بهر هم پلټنه ته اړتیا پېښه شي؛ په داسې حالت کې، که ستاسو د خونې د لیدلو لپاره درې ځله غوښتنه وشي او بریالۍ نه شي، مدیر کولای شي تاسو ته رسمي خبر درکړي چې

خونه به په ټاکلې نېټه او وخت پلټنه کړي. که مدير باور ولري چې د روغتيا او خونديتوب عاجل خطر موجود دی، کولای شي پرته له مخکینۍ خبرتيا خونې ته ننوځي.

ستاسو خونه همدارنګه د لاندې اشخاصو له خوا پلټنه کېدای شي:

- د عدليې، کورنيو چارو او کډوالۍ وزارت کارکوونکي، د IPAS د کارکوونکو په ګډون؛ يا
- نور پلټنه کوونکي چې د وزارت له خوا ټاکل شوي وي.

د IPAS له خوا يا د IPAS په استازيتوب د پلټنې موخه دا ده چې ډاډ ترلاسه شي ټول د روغتيا او خونديتوب شرايط مراعات شوي دي؛ هغه شرکت چې استوګنځای برابروي خپلې قراردادي ژمنې پوره کوي؛ او تاسو ټول اړوند خدمات ترلاسه کوئ.

دغه پلټنې د IPAS له خوا يا د IPAS په استازيتوب پرته له مخکینۍ خبرتيا ترسره کېږي. نه به د مرکز مدير او نه هم تاسو ته د دغو پلټنې د ترسره کېدو وخت در وښودل شي. که تاسو د پلټنه پر مهال حاضر نه ياست، پلټنه ستاسو په نشتون کې ترسره کېدای شي.

### 3.3.3. ستاسو خونه

تاسو مسؤل ياست چې ډاډ ترلاسه کړئ خپله خونه تل پاکه، منظمه او ښه هوا لرونکې وساتئ. که کومه ستونزه لکه دوامداره رطوبت، کپک (mould) يا د حشراتو زيات شتون رامنځته شي، بايد د مرکز مديريت خبر کړئ.

کوچني برېښنايي وسايل او اډاپټرونه د اورلګېدنې خطر رامنځته کولای شي؛ ټول دغه وسايل بايد د مرکز د مدير له خوا تاييد شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د خونديتوب اړين معيارونه پوره کوي.

تاسو ته اجازه نشته چې لوی برېښنايي وسايل لکه يخچال يا فريزر په خونه کې وساتئ. که يخچال ته لاسرسی نه لرئ او د تودوخې تر کنټرول لاندې درملو يا د مور شيدو د ساتلو لپاره د يخچال ځای ته اړتيا لرئ، مهرباني وکړئ د مرکز له مدير سره خبرې وکړئ ترڅو مناسب حل درته برابر شي. دا حل کېدای شي د مرکز له خوا برابر شوی يو کوچنی يخچال وي چې په خوندي ډول په خونه کې وساتل شي، يا د مرکز په بله برخه کې يخچال ته لاسرسی وي.

تاسو ته اجازه نشته چې هغه فرنيچر په خپله خونه کې وساتئ چې د مرکز له خوا نه وي برابر شوی.

د شخصي وسايلو ډېر ساتل چې د ګډوډۍ يا خنډ سبب شي، اجازه نه لري.

تاسو بايد خپله خونه د اورلګېدنې له خطرونو څخه پاکه وساتئ. پدې کې د ننوتلو او وتلو لارې خلاصې ساتل او د هغو توکو له ساتلو ډډه کول شامل دي چې د اورلګېدنې احتمالي خطر رامنځته کولای شي.

### 3.3.4. خواړه او پخلی

تاسو باید په خپله خونه کې خواړه ونه ساتئ، چمتو یې نه کړئ او نه یې پخوئ. همدارنګه، اجازه نه لرئ چې د خوړو د چمتو کولو یا پخلي وسایل لکه بلینډر، ټوسټر، برېښنایي کترۍ، مایکروویو، سلو کوکر او ورته نور وسایل په خپله خونه کې وساتئ.

### 3.3.5. کثافات

تاسو مسؤل یاست چې د مرکز په ټولو برخو کې د خپل استعمال پاتې شوني پاک کړئ، چې پکې ټول کثافات په ځانګړو کثافاتو دانۍ کې اچول او د سطحو پاکول شامل دي.

### 3.3.6. کورني حیوانات

تاسو ته اجازه نشته چې په مرکز کې هر ډول کورني حیوانات یا نور حیوانات وساتئ. یوازې هغه مرستندویه سپي چې په رسمي ډول تایید، ثبت او تصدیق شوي وي، اجازه لري. د هر مرستندویه سپي له راوستلو مخکې باید د IPAS د خدماتي سپو د پالیسۍ له مخې د IPAS اجازه ترلاسه شي.

### 3.3.7. وسایط او سپک برېښنایي وسایط

د موټرو پارکینګ له هغو خدماتو څخه نه دی چې IPAS یې برابروي. که په کوم مرکز کې پارکینګ موجود وي، د هغه اداره او تخصیص د مرکز د مدیریت په صوابدید پورې اړه لري. که تاسو د مرکز په ساحه کې کوم موټر درلودلی وي، باید ثابته کړئ چې:

- تاسو یې مالک یاست؛
- مالیه یې په بشپړ ډول ورکړل شوې ده؛ او
- معتبره بیمه لري.

د برېښنایي بایسکلونو، برېښنایي سکوټرو، برېښنایي سکېټبورډونو، د هغوی د بیټریو یا ورته وسایلو چارج کول یا ساتل د مرکز د ودانۍ دننه په کلکه منع دي. ځینې مرکزونه ښایي په ازاده فضا کې د ساتنې یا چارج کولو اسانتیاوې برابرې کړي؛ که داسې اسانتیاوې موجودې وي، نو د مرکز د مدیریت په صوابدید به برابرېږي او په هېڅ مرکز کې یې شتون تضمین شوی نه دی.

### 3.3.8. لیدونکي

په عمومي ډول لیدنې د سهار له ۱۰ بجو څخه د ماسپښین تر ۱ بجې او د ماسپښین له ۲ بجو څخه د ماښام تر ۸ بجو پورې اجازه لري. د مرکز مدیر کولای شي هر وخت، که د روغتیا او خوندیتوب د خطر احتمال موجود وبولي، د لیدنې ساعتونه یا د لیدونکو شمېر محدود کړي.

کېدای شي لیدونکو ته د لیدنې لپاره ټاکل شویو برخو یا عامه ځایونو ته د ننوتلو اجازه ورکړل شي. د اوسېدونکو د خوب خونو یا شخصي استوګنیزو ځایونو ته لاسرسی، د هر مرکز د جوړښت او خوندیتوب اړتیاوو ته په کتو، محدود یا منع کېدای شي. اوسېدونکي او لیدونکي باید د لیدونکو د لاسرسي په اړه د مرکز د مدیریت ټولې لارښوونې مراعات کړي.

د مرکز مدیران یا امنیتي کارکوونکي هم کولای شي په لاندې حالتونو کې د اشخاصو د ننوتلو مخه ونیسي، د لیدونکو شمېر محدود کړي یا له لیدونکو وغواړي چې مرکز پرېږدي:

- د روغتیا، خوندیتوب یا امنیت اړوند مشخص خطرونه موجود وي؛
- لیدونکی د مرکز د هر حاضر شخص، د مرکز د شتمنۍ یا د اوسېدونکو د شتمنۍ لپاره ګواښ وګڼل شي.

په داسې حالتونو کې، د مرکز مدیر به د دغې پرېکړې دلایل IPAS او اړوند اوسېدونکي ته خبر کړي. IPAS او همدارنګه د مرکز اداره د IPAS په تایید سره کولای شي د یوه مرکز د لیدنې ساعتونه، هغه موده چې لیدونکي کولای شي په مرکز کې پاتې شي، او د لیدونکو شمېر چې اوسېدونکي یې په هر وخت کې لرلای شي، بدل کړي.

سربېره پر دې، لاندې موارد باید تل مراعات شي:

- لیدونکي باید کارکوونکو ته خبر ورکړي چې له چا سره د لیدنې نیت لري او د لیدونکو د ثبت دفتر بشپړ کړي.
- اوسېدونکي باید د خپل مېلمه د هرکلي لپاره حاضر وي.
- اوسېدونکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې د هغوی مېلمانه د نورو اوسېدونکو حقونو ته درناوی کوي.
- لیدونکي باید هغه فورمه لاسلیک کړي چې پکې ژمنه کوي د IPAS مقررات او پالیسۍ به مراعاتوي.
- لیدونکي باید د لیدنې پر مهال د هر ډول احتمالي زیان یا ټپ په اړه د مسؤلیت د معافیت فورمه لاسلیک کړي.
- ټول کم عمره کسان چې د لیدنې لپاره راځي باید د یوه بالغ کس ملتیا ولري، او د غیر اوسېدونکو ماشومانو حضور په مرکز کې د مور، پلار یا قانوني سرپرست له شتون پرته ممکن نه دی.

کله چې یو لیدونکی په مرکز کې ستاسو مېلمه وي، تاسو مسؤل یاست چې ډاډ ترلاسه کړئ هغه مقررات مراعاتوي، او کېدای شي د هغه د چلند له امله د رامنځته شویو ستونزو په وړاندې هم مسؤل وبلل شئ.

### 3.3.9. د اورلګېدنې خوندیتوب

مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو له خپلې خونې څخه د اورلګېدنې د بیړني وتلو تر ټولو نږدې لارې څخه خبر یاست. ستاسو د بیړني وتلو د لارې معلومات باید ستاسو د خوب په خونه کې نصب شوي وي. که دغه معلومات موجود نه وي، مهرباني وکړئ د مرکز له مدیر سره اړیکه ونیسئ. د اورلګېدنې اړوند خبرتیاوې د مرکز

په بېلابېلو برخو کې پر دېوالونو لګول شوي دي ترڅو تاسو پوه شئ چې د اورلګېدنې یا د اورلګېدنې د تمرین (Fire Drill) په صورت کې څه باید وکړئ.

که د مرکز کارکوونکي د اورلګېدنې یا د اورلګېدنې د تمرین له امله مرکز تخلیه کوي، تاسو باید ورسره همکاري وکړئ. مرکز به په منظم ډول د اورلګېدنې تمرینونه ترسره کوي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې تاسو پوهېږئ د بیړنې وتلو کومې لارې کارولای شئ او د اورلګېدنې په صورت کې په کوم ځای کې باید راټول شئ. د اورلګېدنې یا د اورلګېدنې د تمرین په صورت کې به د خطر زنګ به په دوامداره توګه وهي. کله چې دغه زنګ واورئ، مهرباني وکړئ سمدستي له تر ټولو نږدې وتلو لارې ودانۍ پرېږدئ او ټاکلي د راټولېدو ځای ته لاړ شئ.

مور او پلار او قانوني سرپرستان باید (که دا کار خوندي وي) ډاډ ترلاسه کړي چې د مرکز د تخلیې پر مهال خپل ماشومان هم له ځان سره وړي. سربېره پر دې، مور او پلار او سرپرستان باید د مرکز مدیریت ته خبر ورکړي که ماشومان یې د تخلیې پر مهال په مرکز کې حاضر نه وي، د بېلګې په توګه که په ښوونځي کې وي.

تاسو باید د اور ضد دروازو، بیړنیو وتلو لارو، د اورلګېدنې خبرتیاوو یا د اورلګېدنې د خوندیتوب په تجهیزاتو کې لاسوهنه ونه کړئ. تاسو باید د بیړنې وتلو لارې تل خلاصې او له خنډونو پاکې وساتئ. په هېڅ حالت کې باید د اور ضد دروازې خلاصې پرېنږدئ. همدارنګه، تاسو باید د اورلګېدنې د خوندیتوب په تجهیزاتو لکه د اور وژنې سلنډرونو، د اور وژنې نلونو یا د اورلګېدنې د خبرداري په وسایلو کې لاسوهنه ونه کړئ.

که تاسو د اورلګېدنې په اړه خبر شئ، مهرباني وکړئ د اورلګېدنې د خبرتیا تر ټولو نږدې بټن فعال کړئ او وروسته سمدستي ودانۍ پرېږدئ. هڅه مه کوئ چې پخپله اور مړ کړئ.

## 3.4. د استوګنې ځای ټاکنه

د قانون د ۷۶مې مادې له مخې، د عدلیې، کورنیو چارو او کډوالۍ وزیر به هغه مرکز وټاکي چې IPAS پکې تاسو ته استوګنځای برابروي. تاسو باید د خپلې خونې د اشغال او پرېښودلو په اړه د IPAS او د مرکز د مدیریت لارښوونې مراعات کړئ. د عملیاتي اړتیاوو له امله، کېدای شي IPAS اړتیا ولري چې تاسو له یوه ځای څخه بل ځای ته ولېږدوي. همدارنګه، د یوه مرکز دننه هم کېدای شي د IPAS یا د مرکز د مدیریت په لارښوونه له یوې خونې څخه بلې خونې ته انتقال شئ. تاسو باید له هر ډول مکاني انتقال او د خونې له بدلون سره همکاري وکړئ.

که تاسو د هر دلیل له مخې د IPAS د استوګنې وړاندیز رد کړئ، دا کار کېدای شي د منلو د شرایطو د ردولو په توګه وګڼل شي او له هغې وروسته به ښایي د استوګنې د راتلونکو وړاندیزونو مستحق ونه ګڼل شئ.

یوازینی حالت چې په ځانګړو ځایونو کې د استوګنې غوښتنه پکې ارزول کېدای شي، د جدي طبي اړتیاوو استثنايي موارد دي. که غواړئ غوښتنه وړاندې کړئ، د طبي انتقال د غوښتنې لپاره مهرباني وکړئ د IPAS لاندې پروتوکول ته مراجعه وکړئ:

https://assets.gov.ie/static/documents/7027f7e8/IPAS_Medical_Transfer_Request_2026.pdf

د IPAS په استوګنيزو مرکزونو کې د ځانګړي ډول استوګنې غوښتنه، لکه د يوې نفره خونې غوښتنه، يوازې په استثنايي شرايطو کې ارزول کېدای شي؛ په دې شرط چې ثابته شي دغه کار ستاسو د روغتيايي پاملرنې د اړتياوو د پوره کولو لپاره ضروري دی. که غواړئ غوښتنه وړاندې کړئ او د طبي دلايلو پر بنسټ د لا زياتې ارزونې غوښتنه وکړئ، مهرباني وکړئ د IPAS لاندې پروټوکول ته مراجعه وکړئ:

https://assets.gov.ie/static/documents/191e37d5/IPAS_Medical_Consideration_Request_2026.pdf

## 3.4.1. بل استوګنيز مرکز ته لېږد

هېڅوک حق نه لري چې په يوه ځانګړي مرکز کې ژوند وکړي. کېدای شي له تاسو وغوښتل شي چې بل مرکز ته انتقال شئ. د انتقال له ترسره کېدو مخکې به تاسو ته خبر درکړل شي. له انتقال سره د همکارۍ څخه ډډه کول د داخلي مقرراتو سرغړونه ګڼل کېږي.

د هغو کسانو لپاره چې د «راپور ورکولو او استوګنې» شرايطو تابع دي، د IPAS له استوګنځای څخه غير حاضري

که ستاسو غوښتنليک د پناه غوښتنې د ارزونې د سرحدي پروسې تابع وي، نو د قانون د ۱۸۴مې مادې له مخې، تر هغه وخته چې ستاسو غوښتنليک تر ارزونې لاندې وي، تاسو مکلف ياست چې د پناه غوښتنې د ارزونې په سرحدي مرکز کې استوګنه وکړئ. تاسو بايد په دغه مرکز کې ژوند وکړئ او هره ورځ خپل حضور تاييد کړئ. هغه کسان چې د پناه غوښتنې د ارزونې په سرحدي مرکز کې اوسي، د IPAS له خوا د اعلان شويو رخصتيو د مودو د کارولو وړ نه دي. ستاسو حضور به د برېښنايي وسيلو يا نورو ټاکل شويو لارو له لارې تاييدېږي. د مرکز مدير کولای شي دا موضوع تاسو ته تشريح کړي. که د طبي دلايلو له مخې شپه له مرکز څخه بهر تېروئ، بايد ژر تر ژره د مرکز مدير ته خبر ورکړئ.

که تاسو پرله پسې د ۳ ورځو لپاره خپل حضور راپور نه کړئ، نو د دې قانون له مخې به د خپلو راپور ورکولو د مکلفيتونو سرغړونه کړې وي او دا موضوع به د نړيوالې ساتنې دفتر (IPO) ته راپور شي.

ستاسو له ټاکل شوي استوګنځای څخه د غير مجاز غياب په پايله کې، استوګنځای ته ستاسو لاسرسی به لغوه شي او کېدای شي IPO پرېکړه وکړي چې ستاسو غوښتنليک د قانون د ۷۱مې مادې د (f) فقرې له مخې په ضمني ډول بېرته اخيستل شوی وګڼي. IPAS په دې پرېکړه کې هېڅ رول نه لري او پکې مداخله نه کوي.

## 3.4.2. د هغو اوسېدونکو لپاره چې د «راپور ورکولو او استوګنې» شرایطو تابع نه دي، د IPAS له استوګنځای څخه غیاب

د قانون د ۷۶مې مادې له مخې، استوګنځای تاسو ته په دې شرط درکول کېږي چې هره ورځ به په خپل ټاکل شوي استوګنیز مرکز کې اوسېږئ. د IPAS مسؤلیت دا دی چې ډاډ ترلاسه کړي چې د نړیوالې ساتنې ټولو هغو غوښتونکو ته چې کافي مالي امکانات نه لري استوګنځای موجود وي، او ټولې ځانګړې شوې بسترې په دوامداره توګه وکارول شي. په مرکزونو کې د اوسېدونکو حضور د مرکزونو د مدیرانو او همدارنګه د IPAS له خوا څارل کېږي.

IPAS د رخصتیو د مجازو مودو په اړه د مرکزونو مدیرانو ته خبر ورکوي. دغه رخصتیزې مودې اوسېدونکو ته اجازه ورکوي چې د یوې ټاکلې مودې لپاره له مرکز څخه غایب وي (دا موضوع د هغو کسانو لپاره نه ده چې د راپور ورکولو او استوګنې شرایطو تابع دي؛ مهرباني وکړئ پورته توضیحات وګورئ). که غواړئ په دې مجازه موده کې غایب اوسئ، مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې اړینه فورمه مو ډکه کړې او د مرکز مدیر ته مو سپارلې ده.

دا مهمه ده چې په یاد ولرئ، د اعلان شویو رخصتیزو مودو څخه بهر، غیاب یوازې په استثنایي شرایطو کې او هغه وخت اجازه لري چې مخکې له مخکې د مرکز د مدیر له خوا تایید شوی وي.

که تاسو یا ستاسو ماشومان پلان لرئ چې له خپل استوګنیز مرکز څخه غایب شئ، باید مخکې له مخکې د مرکز مدیر خبر کړئ. تاسو باید اړوند اسناد (د استوګنځای څخه د غیاب د خبرتیا فورمه) چې د استوګنځای له چمتوکوونکي څخه ترلاسه کېدای شي، ډک کړئ. وروسته باید دغه اسناد د مرکز مدیر ته وسپارل شي ترڅو ستاسو غوښتنه تایید یا رد کړي.

د IPAS د مرکزونو مدیران د اوسېدونکو د غیاب د ارزونې لپاره د تصدیق یو سیستم کاروي. د داخلي مقرراتو د یوې برخې په توګه، تاسو مکلف یاست چې له دغه سیستم سره همکاري وکړئ. غیر مجاز غیابونه به IPAS ته راپور شي.

## 3.4.3. غیر مجاز غیاب

که تاسو د مجازو رخصتیزو مودو څخه بهر او د اړینې اجازې له ترلاسه کولو پرته، لکه څنګه چې په 3.4.2 برخه کې تشریح شوي، غایب اوسئ، نو دغه غیاب به د 3.4.5 او 3.4.4 برخو د موخو لپاره «غیر مجاز غیاب» وګڼل شي.

## 3.4.4. د غیر مجاز غیاب موده

که ستاسو غیر مجاز غیاب له لاندې مودو څخه زیات شي، تاسو به د داخلي مقرراتو سرغړونکی وګڼل شئ او د 3.4.5 برخې له مخې به د اقداماتو تابع شئ:

- د ۷ پرله پسې ورځو لپاره غیر مجاز غیاب
- د ۴ اوونیو په یوه دوامداره موده کې د ۱۰ ورځو لپاره غیر مجاز غیاب

### 3.4.5. استوګنځای ته د لاسرسي لغوه کېدل

د قانون د ۸۶مې مادې د (3)(f) فقرې له مخې، که تاسو د 3.4.4 برخې په یادو شویو مودو کې غیر مجاز غایب اوسئ، لاندې اقدامات ترسره کېدای شي:

*د نږیوالې ساتنې غوښتونکو لپاره*

- ستاسو استوګنځای به په اوسني ځای کې لغوه شي. که ظرفیت موجود وي، ښایي په بل بدیل ځای کې تاسو ته بل استوګنځای ورانديز شي.

یا

- د قانون د ۸۳مې مادې له مخې به د منلو شرایط لغوه شي او د IPAS استوګنځای ته به ستاسو لاسرسی ختم شي.

په دواړو حالتونو کې، ستاسو بستر به په اوسني استوګنیز مرکز کې بل نړیوالې ساتنې غوښتونکي ته ځانګړی شي.

*د هغو کسانو لپاره چې به IPAS استوګنځای کې اوسي او د هغوی د غوښتنې په اړه پرېکړه شوې وي*

د هغو IPAS اوسېدونکو لپاره چې د عدلیې، کورنیو چارو او کډوالۍ وزیر له خوا یې وروستۍ پرېکړه صادره شوې وي، د استوګنځای برابرولو قانوني مکلفیت شتون نه لري. که ستاسو په اړه هم داسې پرېکړه شوې وي او تاسو له خپل استوګنیز مرکز څخه «غیر مجاز غایب» وګڼل شئ، نو ستاسو استوګنځای به لغوه او بل نړیوالې ساتنې غوښتونکي ته به ځانګړی شي.

### 3.4.6. غیابونه ښایي پر ورځنۍ مالي مرستې اغېز وکړي

له مرکز څخه غیاب ښایي ستاسو پر دې حق اغېز وکړي چې ورځنۍ مالي مرسته ترلاسه کړئ. مهرباني وکړئ د ماشومانو د غیاب په اړه د 3.5.5 برخې مقررات هم وګورئ.

### 3.4.7. که تاسو په دایمي ډول مرکز پرېږدئ

که تاسو پلان لرئ چې مرکز په دایمي ډول پرېږدئ، باید د مرکز مدیر خبر کړئ.

### 3.4.8. د پتې بدلون

که تاسو د IPAS د یوه مرکز اوسېدونکی یاست او ستاسو پته بدلېږي، په دې کې هغه حالت هم شامل دی چې بل استوګنیز مرکز ته انتقالېږئ، نو باید اړوندو ادارو، د نړیوالې ساتنې دفتر (IPO) په ګډون، ته په لیکلې بڼه خبر ورکړئ. دغه فورمې د IPO له لارې په لاندې پته په انلاین ډول موجودې دي:

https://www.ipo.gov.ie/en/ipo/pages/customerservicehomepage

که تاسو اړوندو ادارو ته د خپلې پتې د بدلون خبر ورنه کړئ، ښايي د خپل غوښتنلیک اړوند مهم خبرتیاوې ترلاسه نه کړئ. دا کار ښايي د دې سبب شي چې د اسنادو د سپارلو، اعتراضونو د ثبتولو او ورته نورو چارو لپاره ټاکلې مودې له لاسه ورکړئ. د قانون د ۶۵مې مادې د (2)(b) فقرې له مخې، د IPO سره د خپلې پتې تازه کول ستاسو مسؤلیت دی.

### 3.4.9. خپلواکه وتنه

که تاسو آیرلنډ پرېږدئ، باید د عدلیې، کورنیو چارو او کډوالۍ وزارت خبر کړئ. تاسو باید د خپل وتلو ثبوت (لکه د الوتنې کارت یا په پاسپورټ کې د بېرته ننوتلو مهر) لاندې برېښنالیک ته واستوئ: voluntaryreturns@justice.ie. له هغې وروسته به وزارت ستاسو دوسیه وتړي. د دې کار نه ترسره کول ښايي آیرلنډ او اروپايي اتحادیې ته د عمر تر پایه د ننوتلو د بندیز سبب شي.

## 3.5. ماشومان

### 3.5.1. ښوونځی

تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم په ښوونځي کې حاضرېږي.

هر ماشوم چې عمر یې د ۶ او ۱۶ کلونو ترمنځ وي، باید د ۲۰۰۰ کال د ښوونې (هوساینې) قانون له مخې په ښوونځي کې زده کړې وکړي یا په بل ډول زده کړه ترلاسه کړي. ماشومان باید د ښوونځي پرېښودو مخکې لږ تر لږه د لومړنیو زده کړو له پړاو وروسته درې کاله زده کړې بشپړې کړي. ډېری ماشومان د خپل څلورم یا پنځم کلیز کال له تېرېدو وروسته د سپتمبر په میاشت کې ښوونځی پیلوي.

کله چې ستاسو ماشوم په ښوونځي کې شامل شي، باید هره ورځ ښوونځي ته حاضر شي. که ستاسو ماشوم د ناروغۍ یا نورو دلایلو له امله ښوونځي ته نه ځي، باید ښوونځی خبر کړئ.

## 3.5.2. پاملرنه او خوندیتوب

د مور، پلار یا قانوني سرپرست په توګه، تاسو د خپلو ماشومانو د پاملرنې او خوندیتوب مسؤلیت لرئ.

په آیرلنډ کې هر شخص تر ۱۸ کلنۍ پورې د قانون له مخې ماشوم ګڼل کېږي. کله چې تاسو په مرکز کې حاضر نه یاست، باید ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشومان د یوه مناسب بالغ شخص تر پاملرنې لاندې دي.

په آیرلنډ کې د هر بالغ شخص له خوا ماشوم ته څپېړه ورکول یا وهل، که په کور کې وي یا په ښوونځي کې، اجازه نه لري او د ماشومانو د بدني سزا ټول ډولونه د قانون له مخې منع دي، چې د ۲۰۱۵ کال د Children First قانون او د ۱۹۹۸ کال د ښووني قانون هم پکې شامل دي. دا ډول چلند جرم ګڼل کېږي او مدیران مکلف دي چې دا ډول پېښې An Garda Síochána (د آیرلنډ پولیسو) او Tusla، د ماشوم او کورنۍ ادارې، ته راپور کړي.

## 3.5.3. د ماشومانو د ساتنې او د هغوی د هوساینې د خوندیتوب پالیسي

IPAS په خپلو ټولو مرکزونو کې د ماشومانو د ساتنې پالیسي لري. IPAS د «ماشومانو د ساتنې او د هغوی د هوساینې د خوندیتوب پالیسي» خپره کړې ده. هر مرکز هم د ماشومانو د خوندیتوب ځانګړې پالیسي او اعلامیه لري او تاسو کولای شئ د هغې یوه کاپي د مرکز له کارکوونکو څخه ترلاسه کړئ.

د دې پالیسۍ له مخې، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې له ماشومانو او ځوانانو سره په درناوي چلند کېږي. تاسو باید تل د هغوی خوندیتوب وساتئ او د هغوی عمومي هوساینې ته پاملرنه وکړئ.

## 3.5.4. په استوګنځای کې د ماشومانو څارنه

مور او پلار او قانوني سرپرستان هر وخت د خپلو ماشومانو مسؤلیت لري. مور او پلار او سرپرستان باید ډاډ ترلاسه کړي چې ماشومان یې د IPAS په استوګنیزو مرکزونو کې د اوسېدو پر مهال کافي څارنه لري.

دا د مور او پلار او سرپرستانو مسؤلیت دی چې د خپلو ماشومانو د خوندیتوب او مناسبې پاملرنې ډاډ ترلاسه کړي. که داسې انګېرل کېږي چې یو ماشوم له خطر سره مخ دی، د مرکز کارکوونکي مکلف دي چې د ماشومانو د ساتنې او د هغوی د هوساینې د خوندیتوب په اړه د IPAS پالیسي او همدارنګه د Children First ملي لارښود تعقیب کړي.

د مرکز کارکوونکي نشي کولای ستاسو د ماشومانو پاملرنه وکړي. که تاسو په مرکز کې حاضر نه یاست، مهرباني وکړئ د ماشوم ساتنې یا د ماشوم پالنې مناسب ترتیبات برابر کړئ. ماشومان باید له نورو اوسېدونکو سره شپه تېره نه کړي، مګر په استثنایي شرایطو کې او د مرکز د مدیریت له مخکینۍ اجازې سره.

که تاسو خپل ماشوم د هرې مودې لپاره په مرکز کې د بل بالغ اوسېدونکي تر پاملرنې لاندې پرېږدئ، باید د «ماشومانو د ساتنې او د هغوی د هوساينې د خونديتوب پالیسۍ» د ۵م ضمیمې فورمه ډکه کړئ. د مرکز مدير کولای شي دغه فورمه درکړي.

که مور او پلار يو ماشوم بې څارنې پرېږدي، داخلي مقررات له پامه وغورځوي يا ماشوم له خطر سره مخ کړي، د مرکز کارکوونکي **د قانون له مخې مکلف دي چې موضوع Tusla** ته د ماشوم د هوساينې او ساتنې د اندېښنې په توګه راپور کړي. Tusla هغه ځانګړې دولتي اداره ده چې د ماشومانو د هوساينې او د هغوی د ژوند د پايلو د ښه کولو مسؤليت لري.

## 3.5.5. په بل ځای کې د شپې تېرول

د ماشومانو د ساتنې او د هغوی د هوساينې د خونديتوب پالیسۍ د يوې برخې په توګه، که ستاسو ماشوم غواړي شپه د مرکز پرته په بل ځای کې تېره کړي، بايد مخکې له مخکې د مرکز مدير خبر کړئ.

تاسو بايد د هغه شخص نوم او پته چې ستاسو ماشوم به ورسره پاتې کېږي، او همدارنګه هغه نېټه چې تمه لرئ ماشوم مو بېرته راستانه شي، د مرکز مدير ته وړاندې کړئ. دا کار بايد د «ماشومانو د ساتنې او د هغوی د هوساينې د خونديتوب پالیسۍ» د ۵م ضمیمې د فورمې په ډکولو سره ترسره شي. د مرکز مدير کولای شي دغه فورمه درکړي.

که تاسو دا کار ونه کړئ، ممکن ستاسو ماشوم د ورک شوي شخص په توګه Tusla او An Garda Síochána (د آيرلنډ پوليسو) ته راپور شي.

# 4. د شکايتونو د څېړنې کړنلاره

دا برخه د IPAS د شکايتونو د څېړنې کړنلاره تشريح کوي. که تاسو د خپل استوګنځای په اړه کوم شکايت لرئ، بايد دغه کړنلاره تعقيب کړئ ترڅو موضوع په چټک او اغېزمن ډول وڅېړل شي.

په استثنايي شرايطو کې، تاسو کولای شئ پرته له دې چې د خپل مرکز له مدير سره خبرې وکړئ، خپل شکايت په مستقيم ډول IPAS ته وړاندې کړئ. دا کار بايد يوازې هغه مهال وشي چې تاسو احساس کوئ له خپل مرکز مدير سره خبرې کول ستاسو لپاره رښتينی خطر لري، يا کله چې داسې ادعا موجوده وي چې د مرکز د کارکوونکو له خوا يو اوسېدونکی ځورول شوی يا زيان ورته رسول شوی وي. تاسو بايد تشريح کړئ چې ولې خپل شکايت په مستقيم ډول IPAS ته وړاندې کوئ، او IPAS ښايي ومني چې شکايت له دې کړنلارې پرته هم وڅېړي.

د شکايت وړاندې کول به ستاسو د نړيوالې ساتنې پر غوښتنليک هېڅ اغېز ونه لري.

**محرمیت**

ټول شکایتونه به د مرکز د کارکوونکو او IPAS له خوا په حساسیت او تر ممکنه حده په محرمانه توګه وڅېړل شي. خو د شکایت د ارزونې لپاره کېدای شي اړینه وي چې له نورو ښکېلو اشخاصو سره هم مشوره وشي.

**هغه درېیم شخص چې ستاسو له خوا استازیتوب کوي**

تاسو کولای شئ د IPAS سره د خبرو لپاره یو شخص د خپل استازي په توګه وټاکئ؛ دغه شخص کېدای شي ستاسو ملګری، د کورنۍ غړی، وکیل یا د ملاتړ کارکوونکی وي. که بل څوک ستاسو له خوا له IPAS سره اړیکه نیسي، باید ستاسو له خوا یو لیکلی او لاسلیک شوی اجازه‌لیک وړاندې کړي چې پکې ذکر شوي وي وزارت ته اجازه شته چې ستاسو په استازیتوب ورسره اړیکه ونیسي.

د شکایت د ثبتولو پر مهال، تاسو کولای شئ له یوه ملګري، خپلوان، د ملاتړ ډلې له غړي یا هر بل هغه شخص څخه مرسته وغواړئ چې تاسو سره مرسته کول غواړي. خو IPAS او د مرکز اداره حق لري چې ستاسو د شکایت په اړه مستقیماً له تاسو سره اړیکه ونیسي.

**پړاوونه**

د IPAS د شکایتونو د څېړنې کړنلاره څلور پړاوونه لري:

**لومړی پړاو: په غیر رسمي ډول د مرکز مدیر ته**

کله چې تاسو د لومړي ځل لپاره د خپل استوګنځای یا په مرکز کې د وړاندې کېدونکو اړوندو خدماتو په اړه له کومې ستونزې سره مخ شئ، باید د مرکز له مدیر سره خبرې وکړئ او هغه ته فرصت ورکړئ چې موضوع په غیر رسمي ډول وڅېړي او حل یې کړي.

**دوهم پړاو: په رسمي ډول د مرکز مدیر ته**

که تاسو په غیر رسمي ډول د مرکز له مدیر سره خبرې کړې وي او له پایلې څخه راضي نه یاست، کولای شئ خپل رسمي شکایت په لیکلې بڼه د مرکز مدیر ته وړاندې کړئ. د مرکز مدیر ۱۴ ورځې وخت لري چې دې شکایت ته په لیکلې بڼه ځواب ورکړي. شکایت د برېښنالیک له لارې یا په لاس لیکل شوې بڼه وړاندې کېدای شي.

په رسمي شکایت کې چې د مرکز مدیر ته وړاندې کېږي، باید لاندې معلومات شامل وي:

- ستاسو نوم
- ستاسو د TRN شمېره
- د شکایت جزئیات
- د مرکز مدیر ته د شکایت د غیر رسمي وړاندې کولو جزئیات، د هرې وړاندیز شوې یا عملي شوې پایلې او اقدام په ګډون

## دریم پړاو: په رسمي ډول IPAS ته

که تاسو خپل رسمي شکایت د مرکز مدیر ته وړاندې کړی وي او له پایلې څخه راضي نه یاست، یا که مدیر د ۱۴ ورځو په موده کې ځواب نه وي درکړی، کولای شئ شکایت په مستقیم ډول IPAS ته وړاندې کړئ. دا کار د لاندې برېښنالیک له لارې د IPAS مرستندویه څانګې ته د شکایت په لېږلو سره ترسره کېږي:

ipasinbox@justice.ie یا د پوست له لارې دې پتې ته:

IPAS Customer Services Team, PO Box 11487, Dublin 2

د شکایت د ارزونې لپاره، IPAS ښایي له تاسو څخه نور معلومات وغواړي او همدارنګه له مرکز مدیر او نورو اړوندو اشخاصو سره مشوره وکړي.

- په هغه شکایت کې چې IPAS ته وړاندې کېږي، باید لاندې معلومات شامل وي:
- ستاسو د استوګنې د مرکز نوم
- ستاسو نوم
- ستاسو د TRN شمېره
- د شکایت جزئیات
- د مرکز اداري ته د وړاندې شوي رسمي شکایت او د هغوی د ځواب کاپي

یا

- دا تشریح چې ولې مو شکایت د مرکز اداري ته نه دی وړاندې کړی

## څلورم پړاو: د عمومي محتسب (Ombudsman) یا د ماشومانو د محتسب دفتر ته اعتراض

که تاسو د IPAS له خوا د خپل شکایت د ارزونې له پایلې څخه راضي نه یاست، کولای شئ د موضوع له ډول سره سم د عمومي محتسب دفتر یا د ماشومانو د محتسب دفتر ته مراجعه وکړئ او پر پایله اعتراض وکړئ.

د عمومي محتسب دفتر (Office of the Ombudsman)

تلیفون: 01 639 5600

وېب پاڼه: www.ombudsman.ie

د ماشومانو د محتسب دفتر (Office of the Ombudsman for Children)

تلیفون: 01 865 6800

وېب پاڼه: www.oco.ie

